په افغانستان کی د جاپان سفارت

رسنیزه خبرتیا

د جاپان هیواد 1,110,000 امریکایی ډالرو په لګښت د دوه نووو ماین پروژو لپاره د افغانستان شمالی او مرکزی حوزو کی مرسته وکړه

کابل، د 2016 میلادی کال د فبروری میاشتی 8 مه نیټه: په افغانستان کی دجاپان سفارت د افغانستان په شمالی او مرکزی سیموکی د ماین پاکی دوه پروژی لاسلیک کړی. پدی غونډه چی په کابل کی د جاپان په سفارت کی ترسره شوه. په افغنستان کی د جاپان سفیر جلالتمآب بناغلی هیروشی تاکاهاشی د هلو ترست د موسسی مشر بناغلی داکتر فرید همایون او د ای-تی-سی موسسی مشر بناغلی کفایت الله ابلاغ ترمنځ د ماین پاکی د دوه نوو پروژو قرار داد د 1،110،000 امریکایی دالرو په ارزښت لاسلیک شو. پدی غونډه کی د اقتصاد وزارت او د افغانستان د پیښو پر وړاندی د مبارزی ملی اداری استازو هم ګډون درلود.

د GAGP د پروګرام له لاری دغه دوه پروژی به په کابل، پروان، بغلان او سمنګان ولایتونو کی پلی کیږی. د دغو پروژو په ترڅ کی به 1،426،594 متر مربع ماین لرونکی ځمکه او د جنګ میدانونه به پاک کړل شی.

ټوله هغه ساحه چه باید پاک کړای شی دکرهنیز او د ځارویود څرځایونو ځمکی پکی شاملی دی چی تر پوښښ لاندی نیول کړی. نومورې ساحی دکلونو راهیسی دماینونو اونا چاودل شویوتوکو له املې له استفادی نه پاتی دي. ددغو ساحاحو دپاکولو نه ورسته ژر تر ژره به د استفادی وړ وګرځی چه دا خپله دفقر اوغربت د له مینځه وړلو لپاره چه دهیواد اکثریت وګړي ورسره لاس او ګریوان دي، یوه لویه وندې لوبلوی شی.

جلالمتآب بناغلی هیروشی تاکاهاشی، په افغانستان کي د جاپان سفیر داسی وویل:
دا پروژه به د ډیرو انسانانو ژوند وژغوری او خلک به وتوانوی ترڅو وکولای شی جی به آزاده توګه تګ راتګ وکړی او دا به میسره کړی تر څو له مځکو څخه د پنځونی(تولیدي) په برخه کی استفاده وشی ماین پاکی دملک پراختیا کی یو اساسی عامل دی خصوصا د بنستیز جوړونی او کرهنی پروژوکی مرسته کوی چی په مستقیمه توګه به د افغانستان اقتصادی حالت ته وده ورکړی.

جاپان د ماینونو او ناچاودل شوو توکو په پاکولو کی خپله مرسته دGAGP د پروګرام له لاری په افغانستان کی سرته رسوی. جاپان د افغان ولس د بیا رغونی هڅو کی په بیلا بیلو برخو لکه امنیت، پوهنه، روغتیا، فرهنګ، بشری مرستی، کرهنه، بنستیزو او ظرفیت لوړولو کی مرسته کړی ده.

د زیاتو معلوماتو لپاره:
د جاپان سفارت
بناغلی میوند زرمتی او بناغلی حسیب الله سلطانی
بریښنا لیک: GAGP2@KB.MOFA.GO.JP
اړیکه: 0796010079